# ټوکې، ټکالې

لمړی ټوک



راټولونکی او لیکونکی: ډاکټر معمار حشمت الله اتمر
بېخلیک: وړی / لمریز کال ۱۴۰۸

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



**ليکي پوهه:**

**سرليک:** ټوکې ټکالې

**راټولونکی او ليکونکی:** داکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،
**ايډيټور:**
**د پخښتی ډيزان:** داکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۲۰
**چاپ نېټه:** وږی / کال ۱۴۰۸
**واټس اپ:** ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښناليک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې
ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

ketabton.com - The Digital Library



# لړلیک

| سرلیک | چوپړی |
|---|---|

پېښتې.......... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم .......... ۲
لیکي پوهه: .......... ۳
لړلیک.......... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید): .......... ۵
د یاددښتونو له پاره:.......... ۷
توکې، ټکالې .......... ۸
د چاپ شویو کتابونو لیسټ .......... ٦۸
د کار لاندې کتابونو لیسټ.......... ۷٤
د وخت او امکان په صورت کې .......... ۷۵
د پېښتې ځټ .......... ۷٦

ketabton.com - The Digital Library



**ترانې (پيل، شروع، بريد):**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلّهِ إجْلاَلاً لِقُدْرَتِهِ، وَ لاَ إلَهَ إلاّ اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی.
عظمت، د ټولې نړۍ موجوديت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې وغوښتل *__ټوکې، ټکالې__* تر عنوان لاندې چې له خندا او پند نه ډکې دي، کتاب وليکم تر څو د لوستونکو پام بدل او په شونډو کې يې موسکا راولم.

زما د کتابونو مېنه وال يوازې معماران او انجنيران نه دي، او نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ په خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.


- د پخښتۍ انځور د انټرنت څخه اخیستل شوی دی.
- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کوم چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: 0093799376998

په درنښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

**د یاددښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- .........................................................................

۷- .........................................................................

۸- .........................................................................

۹- .........................................................................

۱۰- .......................................................................

ketabton.com - The Digital Library



# ټوکې، ټکالې

## ګوډ، ګوډ

غفور يو تکړه خټګر و.

هغه د کارموندلو د پاره ګمبېري ډاګ نظامی اډې ته ورغی او عمومي دروازې ته يې ځان ورساوه.

ډېر کسان نور هم د کار له پاره الته ولاړ ول.

هغه د دروازې د يوه ساتونکی نه پوښتنه وکړه او ويې ويل:

زه خټګر او غواړم دلته کار وکړم.

ساتونکی و ويل:

دېخوا ودرېږه!

د غه نور کسان هم د کار له پاره راغلي دي.

څو دکيکې وروسته، د شرکت انجنير راځي.

هغه د اړتيا وړ کسان نيسي.

غفور ودرېد او د انجنير په انتظار شو.

څو دکيکې لا نه وې تېرې شوې چې انجنير په خپل موټر کې راغی.

هغه خپل موټر د نظام قراول په مخ کې ودراوه، له موټر نه کوز او ولاړ کسانو ته يې و ويل:

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
۰۰۰۰۰۰۰۰۰

څوک چې د کار په لټه کې دي، دېخوا دې راشي.

کسان ټول يوې خوا ته ټول شول.

غفور هم د کسانو په منځ کې ودرېد.

بيا انجنير و ويل:

مونږ نن يوازې تکړه ختګرو ته اړتيا لرو، ختګر دې ودرېږي او نور کسان دې څو ورځې وروسته راشي!

غفور هم د دوو نورو کسانو سره ودرېد او نور کسان د سيمې لرې شول.

انجنير زياته کړه.

زمونږ پلستر کار په کار دي.

څوک ښه پلستر کوی شي؟

درېواړو و ويل:

مونږ ټول ښه پلستر کولای شوو.

بيا انجنير و ويل:

زه به پر تاسو امتحانی کار وکړم، که کار د بهرنيانو خوښ شو، تاسو به تر پايه زمونږ سره کاروکړئ، که چېرې ستاسو کار يې خوښ نه شو، د تاسو نن ورځې تنخوا به درکړم او تاسو به رخصت کړم.

ketabton.com - The Digital Library



غفور او یو بل کس ومنه، مګر درېیم کس خپلو سامانو کڅوړه واخیسته بیا یې شاته واچوه، چوب ګز یې په لاس کې ونیو او انجنیر ته یې وویل:

په داسې شرطو، زه کار نه شم کولای.

انجنیر و ویل:

ستا خوښه!

غفور او بل خټګر تلاشۍ نه وروسته د انجنیر سره ننوتل.

انجنیر هغوی د کار سیمې ته ورسول.

بیا یې هغوي ته و ویل:

دغه ودانۍ ده.

تاسو باید پر پخو خښتو پلستر وکړئ.

هغوی و منه او خپل د کار وسایل یې له کڅوړو و ویستل.

کاریګرو د انجنیر د هدایت سره سم، مساله جوړه کړه.

هغوي پر کار پیل کړ.

ګړۍ تېره شوه.

بهرنی کس د کار کنټرول له پاره ودانۍ ته راغی.

خټګر په کار بوخت وو.

کس د دواړو کارونه یې ولیدل.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

بیا یې غفور ته په انګرېزی ژبه و ویل:

ګوډ، ګوډ.

غفور چې ډېر وېرېدلی (بېرېدلی) و، مخ راواړاوه او ویې ویل:

صیب!

ګوډ نه یم.

لړ مې ملا خوږېږي.

**د سرو زرو الوتکه**

یوه ورځ، یوه ښځه رسټورانټ ته، د ډوډۍ خوړلو د پاره لاړه.

هغه د یوه میز تر شا پر څوکۍ کښېناسته.

د هغه میز تر شا، هغې ته مخامخ یو ځوان هم ناست او د ډوډۍ په خوړلو بوخت و.

ګارسون راغی او ښځې ته یې د دوډۍ خوړو مینو (لیسټ) ورکړ.

هغې لیسټ ته وکاته او ګارسون ته یې پرمایښت (فرمایش) ورکړ.

ګارسون هم د هغې لیسټ یاددابنت کړ.

بیا هغه د ډوډۍ راوړلو پسې لاړ.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

د ښځې په غاړه کې، يوه ښکلي غاړکۍ (لاکټ) وه، چې په منځ کې يې ښکلې د سرو زرو الوتکه هم وه.

کس به کله ډوډۍ خوړه او کله به يې د هغې غاړې ته کتل.

ښځه پوی شوه چې کس د هغې غاړې ته ګوري.

له ځانه سره يې سوچ وکړ.

کېدای شي د هغه د سرو زرو الوتکه خوښه شوې وي.

بيا يې د هغه نه پوښتنه وکړه او ويې ويل:

سوچ کوم د سرو زرو الوتکه دې ډېره خوښه شوې ده؟

هغه بې له ځنډه و ويل:

نه!

تر الوتکې مې د هغې ډګر (ميدان) ډېر خوښ شوی ده.

**پېر**

غفور او رحيم خواړه ملګري وو.

يوه ورځ، هغوي په ښار کې روان وو.

په دې وخت کې د مازديګر د لمونځ آذان وشو.

غفور رحيم ته و ويل:

زه خو اودس لرم، ته څنګه؟

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

رحیم په خوب کې و ویل:

نه !

زه خو اودس نه لرم.

کوم نږدې جومات ته به ځان برابر او په اودس خونې کې به، اودس وکړو.

غفور ومنه او دواړه نږدې جومات ته، د اوداسه له پاره ننوتل.

رحیم کوزه د اوبو ډکه، د استنجا ځای ته ننوت.

غفور هم نږدې ودرېد.

رحیم د استنجاه ځای نه وروسته د باندې و وت او پر اوداسه یې پیل کړ.

غفور هم هغه ته کتې.

رحیم ټول اودس د اصولو سره سم ادا او د پښو پر مینځولو یې پیل کړ.

هغه خپلې پښې تر زنګنوو پرېمنځې.

په دې وخت کې غفور پرې غږ وکړ او ویې ویل:

ته څه کوې؟

د پښوو مینځنه خو تر بجلکو (شتالنګ) فرض ده، خو تا تر زنګنوو پرې مینځې.

رحیم و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
۰۰۰۰۰۰۰۰

که پښې مې تر بجلکو مینځلې وای، زه به خدای پاک ته پېر وای.

اوس مې تر زنګنو پرې مینځې.

پرېږده خدای پاک، ما ته پېر وي.

**سپوږمۍ**

روژه د سپوږمۍ په لیدو سره نیول کېږي اوبیا یوې میاشتې یا نهه ویشت ورځو په تېرېدو سره روژه تمامېږي او د اختر ورځ رارسېږي.

یوه کس د اعلان سره سم روژه ونیوه، شپې ورځې به یې شمېرې.

هغه د خلکو وارېده چې، باید سپوږمۍ ولیدل شي، بیا اختر شي.

کس ډېر ډنګر او بې حوصېلې شوی و.

هغه به هر ماښام آسمان کې د سپوږمۍ په لټه کې و.

څه موده تېره او هغه و نتوانېد چې سپوږمۍ و وني.

بله ورځ یې په ناڅاپي ډول، سپوږمۍ ولیده، کومه چې ډېره نرۍ شوې وه.

هغه سوړ اوسېلی وباسه او ویې ویل.

دا دې څه وکړل؟

هم دې زه خراب کړم او هم دې ځان.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

## پوروړی

یو سړی ډېر پوروړی و.

هغه د خپلو ورونو نه هم پوروړی و.

څه موده تېره او هغه ناروغه شو.

چا ورته پیسې نه ورکوې چې خپله درملنه پرې وکړي.

د کلي کور خلک راټول او هغه یې سرکاری (دولتي) روغتون کې بستر کړ.

ورونو او نږدې دوستانو به ترې ډډه کوه او هغه ته به یې پیسې نه ورکوې.

بله ورځ یو کس کلي ته راغی او د هغه کس پوښتنه یې وکړه تر څو خپل پور غوښتنه ترې وکړي.

د کلي خلکو، ورته و ویل:

د هغه وضعیت ډېر وران (خراب) او وینې ته اړتیا لري.

خو کس هیڅ پیسې نه لري چې وینه واخلي.

هغه کېدای شي، څو ورځې ورسته مړ شي.

کس د ځانه سره سوچ وکړ او ویې ویل:

که چېرې دا کس مړ شي، زما پور به څوک راکړي؟

هغه پرېکړه وکړه او ځان یې روغتون ته ورساوه.

ketabton.com - The Digital Library



په دروازې کې يې د کس پوښتنه وکړه.

يوه ډاکټر ورته پټه ورکړه او په منډه بسترخونې ته ننوت.

التبه يو ډاکټر په وتو و.

له هغه يې د کس پوښتنه وکړه.

ډاکټر و ويل:

هغه د کټ پر سر، ستا کس پروت او وينې ته اړتيا لري.

کس و ويل:

دا ده صيب!

زه ورته وينه ورکوم.

ډاکټر په هک پک (حيران) شو او له هغه يې وپوښتل:

ته څوک يې چې هغه ته وينه ورکوې؟

هغه ته خپل ورونويو هم وينه ور نه کړه.

کس و ويل:

ډاکټر صيب!

دا سړى زما نه پوروړى دى.

که چېرې مړ شي، بيا به څوک زما پور راکړي؟؟؟

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

## کبړې ستنې (پایې)

یوه ورځ یو تکړه انجنیر په لاره تېرېده.

اخوا دېخوا یې د سړک غاړې ودانیو ته کتل.

د سړک غاړې ودانۍ هغه ته ګډې وډې ښکارېدې.

څه ودانۍ وتې او څه یې ننوتې وې.

همدا راز د ودانیو لوړوالی هم یو شان نه و.

هغه لارې ته دوام ورکاوه چې نا ببره سترګې یې پر یوې نوې ودانۍ و لګېدې، کومه چې تر ودانولو لاندې وه.

هغه و ودانۍ ته نږدې او پر ستنو یې نظر واچاوه.

هغه ته ستنې (پایې) په یوه خط نه معلومېدې.

هغه په سوچ کې شو.

بیا لږ وروسته او شا ته شو.

زړه یې بې کراره شو.

ودانۍ ته نږدې او د هغه خاوند (مالک، صاحب) په لټه کې شو.

د یوه کاریګر نه یې پوښتنه وکړه او ویې ویل:

د دې ودانۍ خاوند څوک دی؟

کاریګر و ویل:

هغه سړی چې د دربیم پوړ په بالکن کې ولاړ او سګرټ څکوي.

ketabton.com - The Digital Library



بیا یې و پوښتل:

کولای شم د هغه سره خبرې وکړم؟

کس و ویل:

هو!

مهرباني وکړه!

انجنیر پاس وخوت او ځان یې د ودانۍ خاوند ته ورساوه.

لمړی یې د هغه سره روغبړ وکړ.

بیا یې ترې وپوښتل:

د دې ودانۍ جوړولو د پاره دې کوم انجنیر نیولی دی؟

خاوند و ویل:

نه!

زه په خپله د ودانیزو چارو کنټرول کوم.

انجنیر ته، اړتیا نه شته.

بیا یې ترې و پوښتل:

د ودانۍ ستنې دې ولې کږې دي؟

خاوند و ویل:

په دې هېواد کې کوم شی سم دي چې زما د ودانۍ ستنې سمې وي.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

## د ماما کور

یوه ورځ کوم سړی، په لاره تېرېده.

هغه ډېر وږی شوی و.

یوه کور ته یې ځان ورساوه او دروازه یې وټکوه.

د کور خاوند را ووت.

هغه ترې پوښتنه وکړه:

خیریت خو به وه چې دروازه دې وټکوه؟

هغه و ویل:

سخت وږی یم، که لږ څه د خوړلو د پاره راکړې.

د کور خاوند هغه مېلمه خونې ته دعوت او هغه ته یې څه د خوراک د پاره ورکړل.

په خبرو، خبرو د هغه نه یې و پوښتل:

ته څوک یې او د کوم ځای نه راغلی یې؟

سړي ځواب وکړ.

د خدای پاک خوریی او د مکې معظمې نه، راغلی یم.

د کور خاوند په غصه شو.

هغه یې د لاس نه ونیو او د کور نه یې د باندې کړ.

کس و ویل:

ketabton.com - The Digital Library



چېر ته مې بیا یې؟

د کور خاوند و ویل:

ما ما کور ته دې بیایم.

بیا هغوی جومات ته ورسېدل.

د کور خاوند و ویل:

دغه دې د ماما کور دی.

**بډلی**

په پخوا پېر(زمانې) کې د غرونو په منځ کې یوې کونډې ژوند کاوه.

هغې یو زوی درلود چې، بې سوره او لېونی وه.

هغې ته ځمکه د مېړه نه په میراث پاتې وه.

کونډې به پر ځمکې غنم او جوار کرل.

غنم لو او د جوارو فصل ورسېد.

کونډې جوار وکرل.

جوار شنه او د خېشاوې وړ وګرځېدل.

هغې به په جواروکې ډېره خواري کوه.

جوار لوی او توکې یې و وېستې.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
..........

جوار پخېدو ته نږدې شوو.

یوه ورځ په آسمان کې توره وریځه را پیدا شوه.

لمړی په باران یې پیل کړ.

بیا وریځه نوره هم تیاره او ږلۍ پیل شوه.

ږلۍ به کلکه پر جوارو توکو لږېده.

د کونډې ښځې زوی منډه او جوارو ته یې ځان ورساوه.

بیا تیږې واخیستې او د جوارو په وهلو یې پیل کړ.

کونډې چې دا حال ولید، خپل زوی یې د لاسه ونیو او کش یې کړ.

بیا یې سر آسمان ته اوچت او ویې ویل:

زما زوی چې جوار په تیږو ولي، نه پوهېږی.

دا خو، لیونی دی.

ته خو په هر څه پوهېږې!

ته یې ولې ولې؟؟؟

**ګدایګر**

په یوې سیمې کي یو کوماندان (قوماندان) ژوند کاوه.

د هغه، ګدایګرو سره ورانه او تل به یې ګدایګر سیمې او کوڅو څخه ټولول او پر یوې لویې کلا کې به یې بندول.

ketabton.com - The Digital Library



هغوی ته به یې څه څښاک او خوراک ورکاوه.

یوه ورځ یو ګدایګر د کوماندان سیمې ته ورغی.

هغه د کوماندان کور، نه وه لیدلی.

هغه به د کورونو دروازې ټکوې او خیرات به یې غوښته.

هغه څه مزل وروسته د کوماندان پر کور برابر شو.

دروازې ته وړاندې او هغه یې وټکوه.

د کوماندان په کور کې څوک نه وو.

کوماندان په خپله دروازې ته ورغی.

هغه دروازه خلاصه او ویې ویل:

څوک او څه غواړې؟

ګدایګر، سر ټیټ اچولی او د کوماندان پښو ته یې کتل.

بیا یې و ویل:

ما سهار او غرمه څه نه دي خوړلي.

که ما ته خیرات راکړې ډېر ثواب به وګټې!

کوماندان و ویل:

څه وایې؟

ګدایګر سر اوچت او ګوري چې په خپله کوماندان دی.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

هغه ژر و ویل:

که  د شپې یې هم و نه خورم، پروا نه کوي.

## پخوا پېر (زمانه)

پخوا زمانه، ډېره ساده وه.

یوه ورځ د یوه سړي ښځه ناروغه شوه.

ښځې خپل خاوند ته و ویل:

زه ډېره ناروغه یم.

باید د ولسوالۍ کلینک یوه ډاکټر ته لاړ شوو.

مېړه یې و ویل:

اوس ناوخته ده.

سهارو ختي به له خوبه پاځېږوو، بیا به ډاکټر ته لاړ شوو.

ځکه کلینک ډېر لرې او د پښو مزل دی.

ښځې یې و منه.

شپه تېره بیا سهار شو.

هغوي له خوبه پاځېدل.

مېړه یې اودس وکړل او ښځې ته یې و ویل.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

ما خو اودس وکړ.

د سهار لمونځ به چېرته، په جمعې وکړم.

ښځې يې و ويل:

سمه ده!

بيا دواړه له کوره و وتل.

وړاندې لاړل.

په يوه کلي مخ کې د سهار جمع ولاړه وه.

هغه په جمعه ودرېد او ښځه يې تر ونې شا کښيناسته.

ملا امام به آيتونه اوږده ويل.

کس به هم بې واره کېده او په زړه کې به يې ويل:

ژر، ژر خلاص کړه.

زه کلينک ته روان او ښځه مې ناروغه ده.

هغه بې طاقته او ژر يې سلام و ګرزاوه.

له ځايه پاڅېد او ښځې ته يې و ويل:

ځه چې ځو!

بيا ښځه يې پاڅېده او دواړه روان شوو.

څو ګړۍ وروسته، هغوی د ولسوالۍ کلينيک ته، ورسېدل.

ketabton.com - The Digital Library



الته په نوبت کې، کښېناستل.

څنډ وروسته د هغوی لمبر(نمبر) ورسېد.

ډاکټر  د هغه ښځه وکته (معاینه کړه).

نسخه یې ورته ورکړه.

بیا یې د ښځې مېړه ته و ویل:

دا نسخه هغه درملتون ته یوسه او دوا راوړه.

د ښځې مېړه هم نسخه واخیسته او درملتون ته لاړ.

څه څنډ وروسته، بېرته ستون شو.

دوايي یې ډاکټر ته وښوده.

ډاکټر هم ښځې ته د دوا خوړلو لارښوونه وکړه.

بیا هغوی له ځایه پاڅېدل او کور خوا ته روان شوو.

څه مزل وروسته، هغوي بیا هماغه کلي ته ورسېدل.

 الته په تصادفي توګه د مازدیګر لمونځ جمعه ولاړه وه.

هغه ژر خپلې ښځې ته و ویل:

ښه ده چې زه  ژر د جمعې و وتم.

دا لېونیان خو تر اوسه پر لمانځه بوخت دي.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

## ورو، ورو

یوه انجلۍ به هره ورځ ټولګي ته، نا وخته تله.

ځو ورځې تېرې او هغې به خپلو استادانو ته بانې (بهانې)کوې.

یوه ورځ استاد یې پر هغې په غصه او ورته یې و ویل:

ته هره ورځ ناوخته راځې، سبب (دلیل) یې څه دی؟

هغې سر ټیټ واچاوه او ویې ویل:

استاده!

یو الک زما تر شا راځې، نو د هغه کبله پر ما ناوخته کېږي.

استاد و ویل:

دې کې کومه ستونزه نه شته، ژر، ژر راځه!

هغې و ویل:

استاده!

زه خو ژر، ژر راځم، مګرهغه ورو، ورو راځي.

## واده

وایي کوم مجرد سړي ته یې واده کړی وه.

شپه پخه شوه.

ketabton.com - The Digital Library



هر کس په خپلو خونو(کوټو) ننوتل.

کس د ناوې سره، یوائې پاتې شو.

کس ناوې ته و ویل:

ژر شه، مخ دې لوڅ کړه!

ناوې و ویل:

خیریت خو به وي؟

کس و ویل:

خیریت دی.

زه هسې بې طالعو او سپېره بختی یم.

چې کوم صوپي (صوفي) و نه خېژې.

**نانوایي**

یو ساده کس د کلي نه بازار ته تللی و.

غرمه شوه.

هغه ډېر وږی شو.

اخوا، دېخوا یې وکتل.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

څه يې په ذهن کې، را نه غلل.

څو کدمه (قدمه) لاړ او د يوه کس څخه يې و پوښتل.

زه وږی شوی يم.

غواړم د کوم کور نه ډوډۍ، په پيسو واخلم.

کس و ويل:

دلته ښار دی.

ډوډۍ په نانوايي کې خرڅيږی.

کس مننه وکړه او په پوښتنه، پوښتنه نانوايي يې وموند.

ګوري چې الک ډوډۍ پخوي.

سر يې نانوايي ته د ننه او الک ته يې و ويل:

مور دې چېرې ده چې ته ډوډۍ پخوې؟

**هګۍ**

کومې ښځې يوه چرګه درلودله.

هغه به يې ډېره نازوه.

چرګې به د ورځې يوه هګۍ اچوه.

يوه ورځ ښځې ته سوچ ورغی او له ځانه سره يې و ويل:

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
۰۰۰۰۰۰۰۰

که زه دې چرګې ته خواړه ډېرکړم، کېدای شي هغه په ورځې کې دوې هګۍ واچوي.

هغې چرګې ته دانه ډېره کړه.

چرګې به هم د ورځې دوې هګۍ اچوې.

هغې بیا له ځانه سره سوچ و کړ او ویې ویل:

که چرګې ته دانه نوره هم ډېره کړم، کېدای شي هغه په ورځې کې درې هګۍ واچوي.

بیا یې هغې ته دانه نوره هم ډېره کړه.

چرګه د ډېرو دانو خوړلو د لاسه مرداره شوه.

## په ایمان کې توپیر

په یوې پروژې کې ډېرې ودانۍ تر کار لاندې وې.

په ودانیو کې لسګونو ډول، ډول کاریګر په کار بوخت وو.

د کاریګرو کار به، د یوه تکړه او تجربه لرونکي انجنیر له خوا کنټرول کېده.

یوه ورځ انجنیر د کارونو پر کنټرول بوخت و.

هغه د یوې ودانۍ نه بلې ودانۍ ته لاړ، چېرته چې پلسټر کاران د پلسټر په کارونو بوخت وو.

هغه د پلسټر کارانو کار ته، زیر شو.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

د دېوال پلستر يې کوږ او کين په نظر ولګېد.

بيا يې پلستر کار ته و ويل:

چوب ګز دې راکړه چې د دېوال پلستر کنټرول کړم؟

پلستر کار هغه ته چوب ګز ورکړ.

انجنير هم چوب ګز پر پلستر واچوه.

په پلستر کې څه فرق وه.

انجنير په غصه شو.

بيا هغه پلستر کار ته و ويل.

ګوره !

پلستر کې دې څه توپير شته.

پلستر کار و ويل:

مه په غصه کيږه.

دومره توپير خو د سړي په ايمان کې هم وي.

ketabton.com - The Digital Library



## ګډا (نڅا)

يوه ورځ په يوه واده کې ځوانې انجونې نڅېدې.

مجلس خورا تود (ګرم) و.

په دې وخت کې يوه زړه ښځه هم د نڅا ډګر (ميدان) کې ګډه شوه.

هغه به چپه، راسته ګډېده.

د انجونو زړه يې تنګ کړ.

يوه انجلۍ هغې ته ور نږدې او ويې ويل:

ته څه د پاره ناڅې؟

زړه ښځه يې!

تا ته خو به کوم سپين ږيرى هم و نه ګوري؟

هغې و ويل:

مهمه نه ده!

زه خپل خداى ته، ناڅم.

## ټېل وهل

يوه ورځ کوم بې وزلى کس په لاره ته.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

لاسونه یې جوښت او سر یې اوچت نیولی وه.

هغه له ځانه سره ویل:

اې خدایه!

زر افغانۍ خو راکړه.

بیا یې و ویل:

پنځه سوه افغانۍ خو راکړه.

هغه په لاره روان او د پیسو د کمولو سره مخ ته، ته.

څو کدمه (قدمه) نور هم لاړ.

پښه یې پر ډبرې ونښته او پړمخې وغورځېد.

هغه له ځایه پاڅېد.

څه خوږ شوی هم وه.

خپل کالي یې و څنډل.

بیا یې و ویل:

چې پیسې نه راکوې، نو ټېله کوېمې ولې.

**مچه (مچکه) او چپلاخه (چپلکه، چپلقه)**

یوه ورځ، یو ځوان پر لارې تېرېده.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

يوه ښکلې انجلۍ د هغه د مخه تېرېده.

هغه نا طاقته شو.

انجلۍ ته يې ځان ورڼاندې او هغه يې پر مخ مچه کړه.

انجلۍ ډېره په غصه شوه.

ودرېده، او خپله چپلاخه يې د پښې و باسه او هغه يې پر يو مخ کلک و واهه.

هغه هم خپل بل مخ ورنږدې او هغې ته يې و ويل:

پر دې بل مخ مې هم و وهه!!!

**موټر**

يوه ورځ يوې ښوونکې خپل شاګرد ته و ويل:

قلم واخله او پر تختې يو موټر رسم کړه!

شاګرد قلم واخيست او د موټر پر رسمولو يې پيل کړ.

په دې وخت کې د هغې پر غوږکي (موبايل) کې زنګ راغی.

هغه پر غوږکي کې بسيا (مصروفه) شوه.

څو دکيکي يې خبرې وکړې.

خبرې يې خلاصې او غوږکی يې بند کړ.

بيا يې مخ تختې ته واړاوه.

ketabton.com - The Digital Library



ګوري چې شاګرد يوازې سړک رسم کړی.

هغه ته يې و ويل:

ما درته و ويل چې موټر رسم کړه!

تا خو سړک رسم کړی دی.

شاګرد و ويل:

تاسو په غوړکي کې بسيا (مصروفه) وئ، چې موټر يې تېر شو.

**د شايعې نه ډار**

وايي يوه ورځ يوه ښځه پر لارې تېرېده.

سترګې يې پر يوه څلي (منار) ولګېدې چې د جوړولو په حال کې وه.

هغه منار ته نږدې شوه.

د کاريګرو يې و پوښتل:

څه کوئ؟

هغوي و ويل:

نه ګورې چې څلی جوړوو.

ښځې و ويل:

دا څلی خو کوږ دی.

ketabton.com - The Digital Library



کاریګرو و ویل:

دا ته څه وایې؟

دا په نقشې سره سم، کوم چې د ماهرو او تجربه لرونکو انجنیرانو له خوا ډیزاین شوی، جوړیږي.

هغوي پر ښځې وخندل.

په دې وخت کې د ځلي د جوړولو سر انجنیر پرې پام او نږدې شو.

کاریګرو ته یې و ویل:

خیریت خو به وي، چې خاندئ؟

هغوی کیسه ورته په لنډه توګه بیان کړه.

سر انجنیر په سوچ کې ډوب شو.

څو ثانې وروسته یې و ویل:

دا ښځه رښتیا وایي.

دا منار په رښتیا هم کوږ دی.

کاریګر ټول هک، پک پاتې شوو.

بیا سر انجنیر کاریګرو ته و ویل:

راځئ چې ځلی د ښخوا ټېله، تر څو سم شي.

هغوی هسې زورونه و وهل.

څو دقیقې وروسته ښځې ته یې و ویل:

ketabton.com - The Digital Library



څنګه شو؟

هغې و ویل:

دا دی، اوس سم شو.

بیا یې د کاریګرانو نه خدای پاماني واخیسته او روانه شوه.

سر انجنیر هم خپلو کاریګرانو ته و ویل:

د شایعې نه وډار شئ!

**تیت**

یوه ورځ یوې ښځې خپل کوشني زوی ته پیسې ورکړې او هغه ته یې و ویل:

د سړک نه په احتیاط سره تېر او د هغه مخامخ هټۍ نه یوه کیلو بوره واخله.

کوښښ وکړه چې موټر دې ونه وهي.

الک و ویل:

سمه ده مورې!

هغه د کوره و وت.

څه ځنډ وروسته هغه هټۍ ته ورسېد.

پیسې یې هټۍوال ته ورکړې او هغه ته یې و ویل:

دا پیسې واخله او ما ته یوه کیلو بوره راکړه!

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

هټۍوال هم پیسې واخیستې او هغه ته یې یوه کیلو بوره وتله او ور یې کړه.

الک بوره واخیسته او د هټۍ نه د باندې شو.

الک سړک ته نږدې او غوښتل یې چې د سړک نه تېر شي.

په دې وخت کې یو موټر ورسېد او الک ته یې ټیټ، ټیټ (هارن) کړ.

الک سوچ وکړ چې موټروان وایی بوره تیته کړه.

الک هم بوره واخیسته او پر سړک یې تیته (وپاشه).

هغه تش لاس کور ته ستون شو.

مور یې ترې پوښتنه وکړه:

بوره دې څه کړه؟

هغه و ویل:

یو موټر مې تر خوا تېرېده.

هغه تیت، تیت کړ.
ما هم بوره تیته کړه.

**ډار**

په وطن کې بهرنۍ ودانیزې کمپنۍ خورا ډېرې شوې وې.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
۰۰۰۰۰۰۰۰۰

هرې خوا ته ودانيز کارونه په چټکۍ سره روان وو.

بهرنۍ کمپنۍ په سل هاو کاريګر درلودل.

يوه ورځ د کابل ښار د شش درک په سيمې کې يوه کمپنۍ د خپلو کاريګرو سره، د غرمې په وخت کې تر پوزې (پزې) راغله.

کاريګر به يوې خوا او بلې خوا د اوداسه او لمانځه په نامه، ځانونه پټول او وخت به يې تېراوه (ضايع کاوه).

يوه ورځ د کمپنۍ مشر تصميم و نيوه چې اصلي لمونځ کونکي او وخت تېرونکي سره جلا کړي.

د کمپنۍ مشر ژباړونکی را وغوښت.

هغه ته يې و ويل:

پر دولس بجو ټول پر سونل دغه لوی ډګر ته راغونډ چې زه هغوی ته ضروره وينا کوم.

ژباړونکي هم ټول پرسونل ټاکلي ډګر ته راټول کړل.

د کمپنۍ ريس ورسېد.

ټول چوپ (چپ) ولاړ وو.

هغه لنډه وينا وکړه.

له وينا نه وروسته يې و ويل:

څوک چې لمونځ کوي ښی خوا او څوک چې لمونځ نه کوي، کيڼ خوا دې ودرېږي.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

ټول په سوچ کې شوو چې اوس کومه لاره وټاکي.

په دې وخت کې څه په رښتیا لمونځ کونکي ښی خوا ودرېدل.

خو ډېر کاریګران کیڼ خوا ودرېدل.

هغوی سوچ کاوه چې ریس خو کافر دی.

که چېرې ښي خوا ودرېږو، کېدای شي مونږ د کاره وباسي.

ریس بیا خپله خبره تکراره کړه او ویې ویل:

نور څوک هم شته چې لمونځ کوي؟

نور کسان پیدا نه شوو.

بیا هغه و ویل:

کوم کسان چې ښي خوا ولاړ دي، کولای شي دندې ته دوام ورکړي.

هغه کوم کسان چې کیڼ خوا ته ولاړ دي، د همدغې شېبې نه منفک دی.

بیا یې زیاته کړه.

څوک چې د خپل خدای سره دوکه کوي، نو زما سره به هغه څنګه سم و چلیږي.

**توپیر**

یوه ورځ کوم سړي تبلیغ کاوه او ویل یې:

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

په هېواد کې بهرنۍ کمپنۍ ډېرې شوې دي.

د هغوی سره کار کول نا سمه او لاس ورکول بېخي کفر دی.

د کمپنۍ بازار خورا سوړ او چا نه غوښتل چې ور سره کار وکړي.

د کمپنۍ مشر چې زیرک سړی و، کس ته یې خپل ژباړونکی د څه پیسو سره ولېږه.

هغه ته یې پیغام ولېږه چې هره میاشت ستا تنخوا د ژباړن په لاس درلېږم.

کس ډېر خوشحاله شو او خپله خوله یې بنده کړه.

څو ورځې تېرې شوې.

یوه کس ترې پوښتنه وکړه:

تا خو پخوا ډېر تبلیغ کاوه او ویل دې چې، لاس ورکول هم د بهرنیانو سره کفر دی.

چا لیدلی وې چې تا هم د بهرنیانو سره دې لاس ورکړی دی.

هغه و ویل:

په هر ځای کې ښه او خراب شته.

## کورت (کرت، قروت)

وایي د یوه سړي کرت ډېر خوښ راتلل.

ketabton.com - The Digital Library



یوه ورځ یې خپلې ښځې ته و ویل:

نن غرمې ته کرت وسولوه او پرېمانه غوړي پرې واچوه چې زړه مې ورته شوی دی.

ښځه یې اخوا دېخوا وګرځېده، خو کرت یې پیدا نه کړ.

هغه بېرته خپل مېړه څنګ ته راغله او ویې ویل:

کرت خلاص شوي، کوم بل کتغ پوخ کړم؟

مېړه یې و ویل:

نه!

زه بازار ته ځم او کرت اخلم.

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

تر څو ته راځې، زه به اوبه وېشوم.

سړی د کوره و وت او ځند وروسته، بېرته ستون شو.

د کرتو کڅوړه یې ټینګه نیولې اوخپلې ښځې ته یې ورکړه.

په دې وخت کې پر غوړکي یې زنګ راغی.

په غوړکي یې ملګري یې زنګ وهلی و.

هغه ترې و غوښتل چې د باندې و وځي.

سړی هم د باندې و وت.

ketabton.com - The Digital Library



څه وخت تېر او ماښام شو.

هغه کور ته راغی او د ښځې یې و پوښتل:

کرت تیار شو.

هغې و ویل:

هو!

ستا برخه مې پردې شا ته پټه کړې تر څو ماشومان یې و نه خوري.

هغه چې ډېر وږی شوی و، د ټوکرۍ نه یې ډوډۍ واخیسته او پردې ته نږدې شو.

د پردې شانه یې کاسه راواخیسته.

کاسه یې خپل مخکې کښېښوده او د ډوډۍ پر ماتولو یې پیل کړ.

هغه ژر، ژر ډوډۍ وخوړه.

په دې وخت کې، ښځه یې کوټې ته د ننه شوه او ویې پوښتل:

کرت خنګه ول.

هغه و ویل:

کورت ښه خو بې مالګې ول.

ښځه یې ژر پردې ته نږدې شوه.

ګوري چې مېږه یې د کرتو کاسه پرېښې او د اوړو لمدولو کاسه په کومه کې چې هغه لاسونه مینځي اخیستې ده.

ketabton.com - The Digital Library



## پلو

یوه ورځ ملا نصرالدین دخپل ملګري سره ناست و.

هغوی پر کیسو بوخت وو.

په دې وخت کې یو کس راغی چې پر لاس یې د پلو غوری و.

ملګري یې و ویل:

هغه کس پلو راوړي.

ملا نصرالدین و ویل:

زما یې پرې څه؟

ملګري یې و ویل:

هغه پلو تا ته راوړي.

ملا نصرالدین و ویل:

ستا یې پرې څه؟

## بې مزې کرت

یوه ورځ کوم سړی په دښتې کې روان و.

څه ځنډ تګ نه وروسته سترګې یې پر یوه سپین شي ولګېدې.

هغه په سپین شي یې د کرتو خیال وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

له ځانه سره یې و ویل:

دا کرت کېدایشي د کوم شپون نه، غورزېدلی وي.

ژر یې راپورته او پر خوړلو یې پیل کړ.

هغه شی بې خونده و.

له ځانه سره یې و ویل:

کرت خو ښه کرت دي مګر مزه یې باران وړې ده.

## لېونی سړی

یوه ورځ کوم لېوني سړي پر خره غنم بارکړي او غوښتل یې ژرندې ته لاړ شي.

په لاره کې یې یوه بیاله راغله.

پر بیالې پول (پل) و.

خر چې پله ته نږدې شو، ودرېد.

کس به هغه مخکې کاږه (کشکاوه)، خو خر به بېرته شا ته، ته.

په دې وخت کې هغه ته یو سوچ ورغی.

خپل څادر یې تر اوږې کوز او د خره سترګې یې وتړې.

بیا یې د خره مخ راتاو کړ.

هغه یې کش کړ.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

خر شا ته لاړ.

په دې توګه خر پر شا له پله پورې وت.

له پله نه اخوا خر یې ودراوه او سترګې یې پرې خلاصې کړې.

بیا یې خره ته و ویل:

ګوره!

که ته خر یې، خو زه هم لېونی یم.

## ټېله

وایی یو وخت د ډیف (د اوچت ځای نه) حوض کې ځان غورزونې سیالۍ وې.

په دې سیالیو کې ډېری لامبو وهنکو ګډون کړی و.

د لامبو وهونکو په منځ کې هم یوه کس ګډون کړی و، چې په لامبو نه پوهېد.

د سیالۍ ورځ وټاکل شوه.

کس هم سیالیو ځای ته لاړ.

هرڅوک به لوړو ځایونو ته، تلل او د هغه ځای نه به یې ځان حوض ته غورځاوه.

دا کس هم تر ټولو اوچت ځای ته لاړ تر څو ننداره وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

هغه د تخت ژۍ ته نږدې شو.

لاندې يې وکتل، سر يې څرخ وخوړ او لاندې حوض ته و غورځېد.

په دې وخت کې ننداره کونکو پر لاس پړکولو (چيچکو) پيل کړ.

هغه په خواريو د حوض نه و وت.

خلک وړاندې شوو چې د هغه په غاړه کې ګلان واچوي.

هغه و ويل:

دا پربږدۍ!

لمړی بايد پوی شم چې زه چا ټېله کړم؟؟؟

**جنت**

وايي دوه ملګري کوم ښار ته تللي وو.

په دې ښار کې سمه بې عدالتي وه يانې (يعنې) بې پوښتنې ښار و.

هغوي د اړتيا وړ شيانو پوښتنه وکړه.

نرخونه ثابت نه و.

په يوې هټۍ کې يوه بيه او په بلې کې بله بيه وه.

بيا يې د يوه کس نه پوښتنه وکړه:

دا بيې ولې داسې دي؟

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

کس په خوب کې و ویل:

دا بې پوښتنې ښار دی.

هغوي ناچاره شوو او د خپلې خوښې شیان يې واخيستل.

یوه ملګري بل ملګري ته و ویل:

راځه چې د دې ښار نه لاړ شوو.

دا هسې بې پوښتنې ښار دی.

د کومې ستوزې سره مخ نه شوو.

ملګري يې و ویل:

نه !

څه به پېښ شي.

څو ورځې به وګرځوو او د ښار ننداره به وکړو.

بل ملګري يې کوښښ کاوه چې له ښار نه لاړ شي خو ملګري يې نه منه.

څه وختونه تېر شوو.

یوه ورځ قاضي کوم مجرم نیولی و او هغه يې محکمې ته د اعدام له پاره بوته.

په لاره کې کس د غاړې حلقې نه سر وباسه او وتښتېد.

قاضي هرڅه کوښښ وکړ ترڅو هغه ونيسي خو بریالی نه شو.

ketabton.com - The Digital Library



خبره تر پا چاه ورسېده.

پا چاه عسکرو ته امر وکړ چې رسۍ او حلقه واخلي او کس ژر تر ژره ومومي.

عسکر  په ښار کې تیت شوو او پلټنې پیل شوې.

عسکرو به هرڅوک درول او غاړې حلقه به یې د کسانو په غاړه کې اندازه کوه.

په دې وخت کې هغه دوه ملګری پر عسکرو برابر شوو.

عسکرو هغوی ودرول.

حلقه یې د هغوي په غاړو چک کړه.

حلقه د یوه ملګري پر غاړې برابره شوه.

عسکرو هغه ونیو او ورته یې و ویل:

مونږ. تا پاچاه ته بیایو.

هغه  او د هغه ملګري هرڅه و ویل خو عسکرو د هغوي خبرو ته غوږ و نه نیوه او هغه یې روان کړ.

یوه ملګري بل ته و ویل:

راځه چې یو چل وکړو.

هغه بل وپوښتل:

څه چل؟

ketabton.com - The Digital Library



بل ملګري و ویل:

پاچاه خو تا وژني.

التّه چې ورسېدو وبه وایوو چې:

پاچا صیب ما مړ کړه!

ته و وایې چې نه!

ما مړ کړه.

دواړه به شورماشور وکړو.

پاچاه به د علت پوښتنه وکړي.

زه به و وایم چې ما مړ کړه، زه به جنت ته لاړ شم.

ته و وایې چې نه!

ما مړ کړه چې زه جنت ته لاړ شم.

ملګري و ویل:

آخر به څه شي؟

هغه و ویل:

بیا به التّه وګورو.

هغوي د پا چا حضور ته ورسېدل:

خلک شا اوخوا راټول او ننداره یې کوه.

ketabton.com - The Digital Library



عسکرو و ویل:

دا دی کس مو پیدا کړ.

پاچاه قاضي ته و ویل:

کس په دار وخېژوه.

دواړه ملګري دار ته نږدې شوو.

د خپلو په مینځو کې یې شور ماشور پیل کړ.

یوه به ویل:

پرېږده چې ما و خېژوي.

بل به ویل:

پرېږده چې ما و خېژوي.

په دې وخت کې پا چا دواړه خپل حضور ته وغوښتل او د هغوی نه یې پوښتنه وکړه.

تاسو پر څه شور ماشور کوئ؟

هغوي و ویل:

زه غواړم چې ما په دار وزړوې تر څو جنت ته لاړ شم.

ملګری مې وایي چې نه!

ما په دار وزړوئ، تر څو زه جنت ته لاړ شم.

په دې وخت کې پاچا امر وکړ.

ketabton.com - The Digital Library



نه!

دوي پرېږدئ.

ما په دار وزړوئ چې زه جنت ته لاړ شم.

قاضي هم هغوي خوشې او پاچا يې په دار وزړاوه.

هغوي دوه پېښې خپلې او دوه نور يې پور او ښار نه يې ځانونه پناه کړل.

**لار وهه**

يوه ورځ يو سړی پر لارې تېرېده.

د لارې پر سر يې ملا نصرالدين ناست و.

هغه کس د ملا نصرالدين نه پوښتنه وکړه.

ملا صيب!

تر پلاني (فلاني) ښار ته به په څو ګړيو(ساعتونو) کې و رسېږم.

ملا ورته و ويل:

لار وهه!

کس بيا و پوښتل:

ملا تکراره کړه.

لار وهه.

هغه و ويل:

ketabton.com - The Digital Library



زه درته څه وایم او ته راته څه وایې؟

کس سر ټيټ واچاوه او پر لارې روان شو.

څو کدمه (قدمه) چې لاړ، ملا پرې غږ وکړ او ویې ویل:

دوې ګړۍ وروسته.

کس ودرېد او ویې ویل:

لمړی دې ولې و نه ویل؟

ملا ځواب ورکړل.

لمړی خو مې ستا تګ لیدلی نه و.

**یو خو ته هم وکړه**

یوه زوی او سپین ګیري پلار په یوې کوټې کې ژوند کاوه.

یوه ورځ چې اوا (هوا) سړه، آسمان وریځ او باد هم لګېده، سپین ګیری پلار د ممیزو پر پاکولو بوخت و.

هغه کوښښ کاوه تر څو ممیز پاک او د بازار ورځې پلور د پاره یې چمتو(آماده) کړي.

هغه لږ ستړی شو او د خپل زوی نه یې پوښتنه وکړه:

زویه!

وګوره چې باران ورېږي که نه؟

ketabton.com - The Digital Library



زوی یې چې ډېر تنبل و، و ویل:

پلاره!

همداوس پیشو د باندې نه راغله، پر هغې لاس کش کړه، که لمده وه باران ورېږي او که وچه وه، نه ورېږي.

پلار یې حیران پاتې شو.

بیا یې زوی ته و ویل:

ما خو میز پاک کړل، هغه پاوی تیږه راکړه چې میز وتلم.

زوی یې و ویل:

د پیشو لکۍ غوټه کړه، په خپله پاوی دی.

پلار یې په غصه او هغه ته یې و ویل:

دروازه پورې چې هوا سړه ده.

زوی یې و ویل:

پلاره!

دومره کارونه چې ما وکړل، یو خو یې ته هم وکړه!!!

**مرچ**

یو دهاتی سړی د لمړي ځل له پاره ښار ته تللی و.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې

..........

هغه په ښار کې اخوا دېخوا ګرځېده چې سترګې يې پر ميده شويو سرو مرچو ولګېدې.

مرچو ښکلی سور رنګ درلود.

هغه د مرچو لاس ګاډي ته نږدې او پلورنکي ته يې و ويل:

په يوې پيسې د دغه  مرچو نه راکړه!

پلورونکي هم د يوې پيسې مرچ په يوې پوړۍ کې ورته ورکړل.

هغه د پوړۍ سر خلاص او د مرچو پر خوړلو يې پيل کړ.

مرچ ډېر ترخه او د کس د سترګو نه اوښکې جاري شوې.

هغه په لارې روان او د سترګو نه يې اوښکې بېدې.

نا څاپه د يوکس پرې پام او  هغه  نه يې و پوښتل:

خيريت خو به وي، ولې ژاړې؟

هغه ورته و ويل:

دغه مرچ چې خورم ما ته ژړا راولي.

کس ورته و ويل:

لرې يې واچوه.

هغه و ويل:

ولې يې لرې واچوم.

پيسې مې پرې تللي دي.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

## د وچې مېوې هټۍ

یوه ورځ یو کس د وچې مېوې د هټۍ تر څنګ تېرېده.

سترګې یې پر هټۍوال ولګېدې.

د هغه په لاس کې د شنو چایو پیاله وه.

هغه تریخ چای څښنه.

کس ورنږدې شو.

خپل لاس یې د هغه پر سترګو اوخوا دېخوا کړ.

هټۍوال و ویل:

خیریت دی؟

څه کوې؟

کس و ویل:

دا وچې مېوې وینې؟

هغه و ویل:

هو!

وینم.

بیا یې و پوښتل:

چې وینې یې، بیا ولې تریخ چای ته اړم یې او نه یې خورې؟

ketabton.com - The Digital Library



هټیوال و ویل:

چې ویې خورم، کور مې ورانېږي.

کس لاس مېوې ته وړاندې او پر خوراک یې پیل کړ.

هټیوال و ویل:

خیریت دی، څه کوې؟

کس و ویل:

پرېږده!

زما کور دې وران شي.

**ادیره (هدیره)**

یوه ورځ یو کس د ادیرو نه تېرېده.

ادیرو ته چې ورسېد د ادیرو دعایې هېره شوه.

هغه و ویل:

دمور شدې مو شه!

دنامی زامنو !

بنه په اتفاق سره پراته یاست.

ketabton.com - The Digital Library



## برستن

یوه شپه په کوڅې کې شور ماشور شو.

ګاونډیان له خوبه ویښ او کوڅې ته و وتل.

شور ماشور لا پسې ډېر شو.

د ملا نصرالدین ښځه را ویښه او ملا ته یې و ویل:

وګوره!

کوڅه څه خبره ده؟

ته خو ملا او خلک ستا خبره مني.

هغه پاڅېد.

هوا سړه وه.

هغه برستن پر سر واچوه او د کور نه د باندې شو.

هغه به کله یوه ته ویل:

بس کړئ، خلک مو له خوبه و وېستل.

کله به یې بل ته و ویل.

شور ماشور لږ. او د ملا برستن په خلاصولو کې ورکه شوه.

خلک هم خپلو کورونو ته روان شوو.

ملا چې هرې خوا و کتل، برستن یې و نه مونده.

ketabton.com - The Digital Library



هغه هم کور ته د ننه شو.

ښځې یې و ویل:

ښه شو چې و وتې!

که نه ټولو به تر سهاره خوب نه وه کړی.

ملا سوړ اوسېلی وباسه او څه یې و نه ویل.

بیا ښځې یې پوښتنه وکړه.

و دې نه ویل چې شور ماشور د څه پر سر وه؟

ملا و ویل:

زما د بړستنې پر سر.

**ډکه**

یوه ورځ یوه ړوند د خپل ملګرو سره خیرات ته روان شو.

په لاره کې یې خپل ملګرو ته و ویل:

تاسو خو بینا یاست.

کوم وخت چې دسترخوان اوار(هموار)، خوراکي شیان پر دسترخوان کېښودل شو او تاسو پر خوراک پیل کړ، ما ته یوه ډکه راکړئ چې پوی شم او زه هم پر خوراک پیل کړم.

ملګرو یې و منه او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

سمه ده!

لږ ځنډ وروسته هغوي مطلب ځای ته ورسېدل.

کور ته د ننه او پر توشکو کښېناستل.

لاسونه پرېمنځل شوو.

دستر خوان اوار او کتغ پرې د کېښودل په حال کې وه.

په دې وخت کې په تصادفي ډول، د یوه ملګري څنګله د ړوند په بغل کې ولګېده.

هغه پر خوړو پیل کړ.

هغه بیا ړوند ته ډکه ورکړه (مطلب یې دا وه چې تر اوسه خوراک نه دی پیل شوی)

هغه ژر، ژر په خوراک پیل کړ.

ملګري یې بیا ډکه ورکړه (مطلب یې دا وه چې څه کوې؟)

هغه ژر غوري واخیست، ځان ته یې نږدې او ویې ویل:

چور خو نه دی.

خیر دی چې زه ړوند یم.

ketabton.com - The Digital Library



## نسوار

یو نسواری سړی بهر ته لاړ.

هغه له ځانه سره د نسوارو ډبی او نسوار له ځانه سره واخیستل.

یوه ورځ یې نسوار به خوله کې اخوا دېخوا ګرځېده، تر څو کوم ځای کې تف داني ومومي.

تف داني یې و نه موند.

هغه معلوماتو غرفې ته نږدې او د کس نه یې پوښتنه وکړه.

کوم ځای شته چې نسوار مې تو کړم؟

هغه ورته و ویل:

د سالون په څنډه کې یو تور ډبی شته.

د ډبي پرمخ یوه سره بټنه ده.

هغه کېکاږه بیا نسوار دې تو (تف) کړه.

هغه اخوا دېخوا وګرځېد.

په مخه یې یوه توره ښځه راغله چې پر څوکی ناسته وه.

کس ورنږدې شو او له ځانه سره یې و ویل:

شی خو پیدا او وګورم چې بټنه یې چېرې ده.

د ښځې د وچولي د پاسه سور خال و.

کس خوشحاله او د هغی پر خال یې ګوته کېکاږه.

ketabton.com - The Digital Library



ښځه وارخطا او هغه ته یې و ویل:

خیریت دی؟

څه کوې؟

کس و ویل:

خبرې مه کوه!

نسوار تو کوم.

**لغته**

یو سړي غوښتل پر خره سپور شي.

هغه د خره په سپرېدو نه پوهېد.

شاوخوا تر خره تاو او غوښتل یې پر خره سپور شي.

په دې وخت کې خره سړي ته لغته ورکړه او ډېر یې خوږ کړل.

سړی په غوسه او خره ته یې دوې لغتې ورکړې.

بیا یې د خره په غوږکې و ویل:

زه له تا څه کم یم.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

## کوژده

پلار خپل زوی ته و ویل:

زویه!

کوژده درته کوم خو کوم وخت چې د انجلۍ کورنۍ ستا لیدو ته راځي، ته به غټې غټې خبرې کوې.

زوی یې و ویل:

سمه ده پلاره!

څو ورځې تېرې شوې.

د انجلۍ کورنۍ د الک لیدو ته راغلل.

ستړي مشي نه وروسته الک خپل پلار ته و ویل:

پلاره!

د اورګاډي کلۍ راکړه چې مستو پسې ځم.

## تراویح

کوم ځای کې ډېرې تېزې (سریع) تراویح وې.

پلار او زوی په دوبیم سپ (صف) کې ولاړ ول.

پلار یې کمزوی او سپین ګیری و.

ketabton.com - The Digital Library



کله چې ملا امام سجدې ته لاړ، دوي هم سجدې ته لاړل.

ټول راپورته شول.

کمزوری پلار تر ځو پاڅېده، خلک بیا د دوهیم رکعت سجدې ته ښکته شول.

په دې وخت کې زوی خپل پلار ته و ویل:

پلار جانه!

مه پورته کېږه!

مونږ بیا درغلو.

**د غوايي غوښه**

یوه لېوني بل ته و ویل:

دا ځوکاله کېږي چې د غوایی غوښه خورم.

اوس داسې غښتلی یم لکه نر غویی.

بل ورته و ویل:

دا ځو کاله کېږي چه زه د کب (ماهي) غوښه خورم، خو تر اوسه مې لامبو هم نه ده زده کړې.

ketabton.com - The Digital Library



## د بشرحقوق پېژندنه

یوه کس خپله ښځه مخکې روانه کړې او دا ورپسې و.

حقوق بشر والا پرې راغلل.

هغه ته یې و ویل:

آفرین!

سل آفرین دې پرتا شي، چې ښځه دې مخکې روانه کړې ده.

حقوق بشر والا و پوښتل:

ولې درته دا احساس پیدا شو؟

کس و ویل:

احساس مېحساس باندې نه پوهېږم.

خلک وایي په دې سیمې کې ډېر ماینونه ( ناچاودي بمونه) دي.

## د کچالو بولاني

یوه ورځ خاوند کورته کچالوان راوړل.

هغه خپلې ښځې ته یې و ویل:

کچالوان خورا قیمته او ما هم لږ کچالوان واخیستل.

ته د دې کچالوانونه بولاني پاخه کړه.

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

څه وخت تېر او ښځې بولاني پاخه او خاوند مخې ته یې کېښودل.

سړي د بولانیو په خوراک پیل کړ.

بیا یې ښځې ته و ویل:

دا څه رقم د کچالوانو بولاني دي چې په کې کچالوان نه ښکاري؟

ښځې یې و ویل:

غلی کېنېنه سړیه!

په اوزبکي پلو کې چا ازبکان لیدلي؟؟؟

## زمری

یو وخت یو زمری خارج ته لاړ.

التبه به یې وابښه خواړه.

یوه کس پرې پام شو او ویې ویل:

ته خو زمری یې، وابښه ولې خورې؟

زمري و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

چپ شه!

خبرې مه کوه!

د وزې په پاسپورت راغلی یم.

**کنجوس سړی**

یوه ورځ د یوه کنجوس سړي موټر ټکر وکړ.

له موټره کوز، د سړک غاړې ته کښېناست او پر ژړا یې پیل کړ.

اف، موټر مې!

وای موټر مې!

په دې وخت کې یو ټرافیک راغی او هغه ته نږدې شو.

ټرافیک و ویل:

بد مرغه انسانه!

د خپل لاس دې تر مړوند پرېک شوید هغه په غم کې یې نه یې، خو د موټر په غم کې یې او وایې:

موټر مې !

موټر مې!

هغه ژر خپل لاس ته وکتل او ویې ویل:

ای خدایه سات (ساعت) مې!

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

ساټ مې.....

ساټ مې...

**بسم الله**

یوه ورځ یوه سړی خپل زوی ته و ویل:

زویه!

کوم وخت چې ډوډۍ خورې، بسم الله و وایه چې شیطان در سره ګډ نه شي.

زوی یې وویل:

سمه ده پلاره!

کوم وخت چې به یې زوی ډوډۍ خوړه، بسم الله به ترې هېره او شیطان به ور سره په ډوډۍ ګډېده.

څو ورځې تېرې شوې.

د شیطان زړه په تنګ شو او الک ته یې و ویل:

لېونیه!

بسم الله و وایه!

د پیټیو په خوراک دې زما نفس و باسه.

**پای**

ketabton.com - The Digital Library

ټوکي، ټکالي
۰۰۰۰۰۰۰۰

## د چاپ شويو کتابونو لیسټ

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتیوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجنیری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالي

۰۰۰۰۰۰۰۰

(جلد اول)

۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجنیری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
۴۴. د اسلامي معمارۍ پیل
۴۵. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
۴۶. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
۴۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
۴۸. حشمت خان د کلا معماري
۴۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو ښونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵۴. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵۶. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اېنجینېرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
........

٦٠. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦١. دڅاڅکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده بړستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینۍ انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٨٠. ادبي لښتې / خمچه های ادبی
٨١. د ښاروالۍ کاریګر (پښتو ناول)
٨٢. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
٨٣. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
۰۰۰۰۰۰۰۰

۸٤. ساختمان های کانتینری
۸۵. کانتینري ودانۍ
۸٦. Architecture of Buddist temple in Kabul city
۸۷. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
۸۸. خړه بیزو(پښتو کیسه)
۸۹. سور تنور(پښتو ناول)
۹۰. سپین کارغه (پښتو داستان)
۹۱. لېونی لېوه (پښتو داستان)
۹۲. بندي مرغه (پښتو داستان)
۹۳. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
۹٤. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
۹۵. د پوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
۹٦. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري
۹۷. ناکامه مینه (پښتو ناول)
۹۸. سنګلاخ دره او معماري
۹۹. عشق در کانتینر ها (ناول به زبان دری)
۱۰۰. مادل اندازه گیری اسلامی
۱۰۱. په ګاونډ هېواد کې زړه بایلل (پښتو ناول)
۱۰۲. بازی ها وسپورت های محلی مردم افغانستان - جلد اول
۱۰۳. منار های غزنی – گذشته و حال
۱۰٤. تورې چشمې (عینکې) پښتو ناول
۱۰۵. د چک ولسوالۍ نه (۹) برجه کلا
۱۰٦. د یوې شپې ناوې (بهرنی پښتو ناول)
۱۰۷. ښکلا (پښتو ناول)
۱۰۸. د نارنج غونډۍ
۱۰۹. د چوکې دهقان (بزګر، کروندګر)
۱۱۰. مشت نمونه خروار

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
.........

١١١. قلعه برگد عبدالاحمد خان
١١٢. قلعه بلند کلوله پشته
١١٣. منار غزنی الهامی برای منار جام
١١٤. د افغانستان تاريخي کلاګانو ته، یوه لنډه کتنه
١١٥. د کونړ (کنړ) کلي والي ودانۍ او وروستۍ زلزله
١١٦. در آرزوی انجنیر شدن
١١٧. پاڼه ژېړه شوه (پښتو ناول
١١٨. ټوکې، ټکالې

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
۰۰۰۰۰۰۰۰

**د کار لاندې کتابونو لیسټ**

۱. روسی اینګور(ناول)
۲. برگشت (ناول)
۳. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
٤. هنر کلالی در مرادخانی
٥. بې وخته باران (ناول)
٦. د ژوند پای (ناول)

ketabton.com - The Digital Library

ټوکې، ټکالې
۰۰۰۰۰۰۰۰۰

## د وخت او امکان په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

ketabton.com - The Digital Library

# Jokes, Humor



Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*